چا چې :(لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ) وويل: او په هر هغه څه يې کفر وکړ چې له الله جل جلاله پرته يې عبادت کيږي، نو د هغه مال او وينه حرام دي، او حساب يې د الله جل جلاله سره دی

له طارق بن أشيم الأشجعي رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اوريدلي چې ويل يې: «چا چې :(لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ) وويل: او په هر هغه څه يې کفر وکړ چې له الله جل جلاله پرته يې عبادت کيږي، نو د هغه مال او وينه حرام دي، او حساب يې د الله جل جلاله سره دی».
[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر ورکوي چې چا «لا إلهَ إلَّا اللهُ» وويل: يعنې په ژبه يې ګواهي ورکړه، چې له الله جل جلاله پرته پر حقه بل معبود نشته، او په هر هغه څه يې کفر وکړ چې له الله جل جلاله پرته يې عبادت کيږي او له اسلام پرته له نورو ټولو اديانو څخه يې بيزاري اعلان کړه، نو د هغه وينه (تويول) پر مسلمانانو حرام دي، زمونږ لپاره يوازې د هغه څرګند حالت بسنه کوي، نو نه يې مال اخيستل کيږي، او نه يې وينه تويږي، مګر دا چې جرم او يا جنايت وکړي چې پدې سره يې د اسلام د احکامو له مخې وينه تويږي. او د قيامت په ورځ به ترې الله جل جلاله حساب اخلي، نو که چېرته ربښتينی و اجر به ورکړي او که منافق و، نو سزا به ورکړي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/6765